هفته نامهء

اتحاد اسلامی

بیانگر آرمان اتحاد اسلامی افغانستان

PROPERTY OF ACKU

دنوي نړيوال نظام ږغ ددوستم پر اوږو

(٦) مخ

هیاهوي مداخلهٔ هند در افغانستان از افسانه تا حقیقت

ص (٢)

شمارهء مسلسل (٣٤٨) سال دهم ـ شماره (٥٣) سه شنبه (٥) میزان ١٣٧٣ هـ ش ـ (٢٢) ربیع الثاني ١٤١٥ هـ ق (٢٧) سپتامبر ١٩٩٤ م
قیمت (١٠٠) افغانی (دو روپیه)

دجمعیت اسلامی منشی محترم سید نورالله «عماد»:

کومه لویه جرگه چې مونږ یې پام کې نیولې هغه به یقیناً دخیل جوړښت، ولسي تمثیل او درائې اونظردآزادۍ له پلوه منفرد خصوصیت ولري

* دعامې بښنې اعلان زموږ دمشرانو تاریخی اشتباه وه
* دایوواقعیت دی چې ځینولویوجرگودیری ژوری ستونزی حل کړیدی
* له دولت سره دپوهاند سیاف دریدل دیواسلامی اوتاریخی سند حیثیت لری
* ارگ خوبه کنډواله بدل شوی نود بدخشی اوپنجشیری خبره څه ما نالری؟

(٣) مخ

مـــــــزاري را بـــــشناسـيد

صفحه (٦)

دپاکستان په مطبوعاتو کي دافغانستان دکشالي انعکاس

(٤) مخ

قصه پادشاه نصارا و معتمد بن عباد

صفحه(٥)

دډاکټر صاحب یوه ترخه خاطره

(٥) مخ

دافغان ملت دکلني پاڼي «استقلال» دځواب په ځواب کي

(٣) مخ

حمایت امریکا از دموکراسي از هائیتي تا الجزایر

صفحه(٨)

اعلامیهء اتحاد اسلامی افغانستان

مردم پکتیا، مردم مومن مجاهد وپابند احکام شریعت هستند وعلاوه برآن درمورد رفع اختلافات ومنازعات، عادات وتقالید مناسب منطقوي دارند که براساس آن جلو فتنه ها وکشمکش هارا میگیرند. باند فتنه گردوستم گلبدین باپشت سرگذاشتن احکام شرع وزیر پا نمودن عادات ودساتیرمردم پکتیاآتش فتنه وفساد را به آنجا نیزمنتقل نمودند وطبق عادت شان بشکل وحشیانه ونا جوانمردانه بالاي فرقهء جهادي تنظیم اتحاد اسلامي افغانستان تعرض نمودند که بفضل وکرم خداوند جل جلاله جزاي این عمل شوم خودرا دیده وبا شکست فضیحت بار مواجه گردیدند.

این عمل زشت ونا رواي حکمتیارکه بخاطرایجاد ناآرامي وتشنج در ولایت پکتیا صورت گرفته بود، احساسات مردم مجاهد ومومن پکتیا را بر انگیخته وهمه این اقدام را محکوم نموده وآنرا دشمني با اسلام وکشوردانسته اند.

بنام خداوندی که بی اندازه مهربان و نهایت با رحم است

سرمقاله

جنگهاي کابل وشکست غرورائتلاف هماهنگی

ائتلاف هماهنگی که ترکیبی است ازبعضی عناصرمجاهدنما وجمع غفیری ازکمونستها وملیشه های ملحد ووطن فروش وغربزده های خائن، اساساً ازطرف دشمنان خارجی اسلام ووطن بمنظورشعله ورنگهداشتن آتش جنگهای ویرانگروجلوگیری ازبازگشت صلح وثبات وامنیت درکشورساخته شده است.

انگیزه، ساختن این ائتلاف ازطرف خارجیها ترس ازظهورافغانستان اسلامی متحد ویکپارچه ونیرومنداست واین کابوسی است که دشمنان خارجی اسلام ووطن برای جلوگیری ازتحقق آن حاضراند ملت مارا بکلی نابود ووطن مارا کاملاًویران سازند ودرین راه همه، توان نظامی واقتصادی وسیاسی خودرا بکارانداخته وبا تمام نیروواردِ میدان جنگ علیه ملت مظلوم ما شده اند.

ائتلافیون هماهنگی بادرنظرگرفتن همین امکانات بیحد وحصراربابان خویش وبا اتکا به همین پشترانه، ظاهرابسیارنیرومندازهمان لحظات نخستین تشکیل این ائتلاف ننگین آنقدر مغرورانه ومتکبرانه حرف زده اند که توگویی امروزیافردا نه تنها افغانستان بلکه همه، جهان رافتح خواهند کرد وبرتخت فرمانروایی دنیا جلوس خواهند فرمود!

قبل ازکودتای شوم یازده، جدی ائتلافیون به اربابان ورفقای خود وعده داده بودند که درظرف بیست وچهار ساعت کابل را تسخیرخواهندکرد واسکلیت کمونیزم رادوباره برمسند اقتدار خواهند نشاند ولی نه تنها این خواب پریشان ایشان شکل واقعیت بخود نگرفت بلکه شکست ذلت باروروسوا کننده یی نصیب کودتاگران شدکه علاوه برشرمندگی شان درنزد ملت باعث سرافگندگی وخجالت شان درنزد اربابان شان نیزگردید.

درکودتای یازده، جدی، کودتاچیان نه تنها قدمی پیش نرفتند بلکه مناطق گسترده یی رادر داخل شهرکابل ازدست دادند وکابل ازلوث وجود ملیشه های جنایتکاردوستم بکلی پاکسازی گردید.

بااین همه شکستهای کمرشکن ودیوانه کننده بازهم ائتلافیون هماهنگی ازمرکب غرورخود پائین نشدند ودرحالیکه جزراکت زدن کورکورانه به خانه های مردم بیگناه کاری ازدست شان ساخته نبود لاف می زدند که چنان وچنین خواهیم کرد وبه پیروان واربابان خود خوشخبری می دادند که بین ما وتاج وتخت فاصله یی نمانده است وامروزیا فردا بایك جست می توانیم آنرا تصاحب کنیم!

این غرورائتلافیون هماهنگی بازهم متکی برزور وبازو ووعده های اربابان خارجی بودکه به آنها تسلی داده ویقین دهانی نموده بودند که به کمك های بیدریغ نظامی ومالی خود به ایشان ادامه خواهنددادوازیاری وهمکاری شان دست نخواهندکشید.

با اتکاء به این وعده ها وبادخالت مستقیم ازبکستان،ائتلافیون هماهنگی به کندزحمله ورشدند وآنرا اشغال نمودند وبه تاراج وچور وچپاول آن پرداختند وبه بی ناموسی دست زدند اما بعد ازمدتی دراثردلاوری ورشادت سپاهیان شجاع اسلام، شکست خوردند وفرارکردند ودرپی آن بعدازمدتی دوسنگربسیارعمده، ملیشه هادرکابل یعنی بالاحصاروتپه، مرنجان ازدست شان رفت وغرورملیشه هاورفقای ائتلافی شان بزمین خورد.

ائتلافیون هماهنگی که اززمان تشکیل این ائتلاف نامقدس جزکشتارمردم بیگناه وشعله ورنگهداشتن آتش جنگ وایجاد فتنه وآشوب، درمیدان جنگ کاری ازپیش نبرده اند با ایجاد آشوب درلوگرواشغال چند پوسته واشغال خنجان به دستیاری ومداخله، مستقیم ازبکستان،چنان مغرورشدند که توگویی همه، افغانستان رافتح کرده اند وفردا حکومت شان را اعلان خواهند کرد!

درحالیکه درجنگ دست بدست شدن مناطق یك امر طبیعی است ومجاهدین توانسته اند درین مدت چندین سنگرمستحکم ملیشه هارادرخنجان فتح نمایند وانشاءالله بزودی خنجان هم مانند کندزازلوث وجود ملیشه ها دوباره پاکسازی خواهد شد.

چنانکه گفتیم با آشوبگری درخنجان ولوگر،غرورائتلافیون به آسمان رسید وهیاهوی شان همه جارا پرکرد اما ازآنجائیکه پروردگارمتعال غرور وتکبررادوست ندارد ومتکبران بخصوص متکبران ملیشه وملحد وکمونست راسرکوب می کند، دیری نپائید که پروردگاربا آتش افروخته شده از طرف ائتلافیون هماهنگی درکابل، خودایشان را سوخت وملیشه های جنایتکارومزدورمزاری که باحمله برمواضع مجاهدین حرکت اسلامی وحزب وحدت اسلامی برهبری حجت الاسلام اکبری، آتش جنگ خونین دیگری رادرکابل شعله ورساخته بودند باوجود مساعدت سائرجناحهای ائتلاف باآنها، شکست سختی را متحمل شدند ومناطق گسترده یی ازچنگال این وحشیان خود فروخته آزاد گردید.

جنگ وقتی آغازگردید که مزاری بقصد ازبین بردن آقای اکبری واشغال مواضع وسنگرهای حرکت اسلامی دزدانه

ص (٧)

کومه لویه جرگه چی مونږ په پام کی نیولی هغه به یقیناً دخپل جوړښت ولسی تمثیل او درائی اونظردآزادی له پلوه منفرد خصوصیت ولری

پدی وروستیوکی دٌاسلامی جمعیت منشی اوداسلامی لوی جرگی داستازی کمیسیون رئیس سید نورالله عماد پیښورته راغلی ؤنوموړی دخپل سفرپه ترځ کی داتحاد اسلامی داونیزی سره دخپل ماموریت، دجهادی اوسیاسی مطرحو شخصیتونو او اړخونو سره دلیدنوکتنواوپه دولت باندی دګڼ شمیرنیوکواواعتراضونوپه اړه یوه ځانګړی مرکه کړی چی پرته له کومی لاس وهنی ئی دقدرمنولوستونکودلازیاتومعلوماتوپه هیله په لاندی ډول دهغوی په خدمت کی ږدو.

پیښور: ۲۷ سپتمبر.

پ: عماد صیب ته دیو داسی تنظیم منشی ئی چی تل ئی دلوی جرگی سره مخالفت ښودلی او هغه ئی د لویدیځ دتالی څهونغښته بللی اوس کوم هغه لاملونه ددی باعث شول چی ستا غوندی په اصطلاح بنیادگرا، اخوانی اوتحریکی شخصیت دظاهرشاه دکوم وزیرپه څېردلوی جرگی مدعی شوی؟

ځ: مونږ که پخوا دلوی جرگی سره مخالفت ښودلی هغه په حقیقت کی دهغی دجوړښت اوترکیب سره وو نه دهغی دنوم او تعبیر سره ځکه تیروؤیمونو به په فرمانشی ډول یو شمیرخانان، ملکان اوسرحدی بی سواده او غوړه مال خلك راغونډ کړل اوهغوی به ئی دخپلو شومو اهدافولپاره استخدامول، ولی کومه لویه جرگه چی مونږ په پام کی نیولی هغه به یقیناً دخپل جوړښت ولسی تمثیل اودرائی اونظردآزادی له پلوه منفرد خصوصیت ولری.

خوزه باید دلته دیو واقعیت په توگه ومنم چی په پخوا کی دځینو لویو جرگو له لاری دهیواد ژوری اولانجمنی ستونزی حل شویدی چی دبیلگی په توگه په دوهم نړیوال جنگ کی دبی طرفی اعلان اوهم د داود خان دصدارت په وخت کی دوروراو گاونډی هیواد پاکستان سره دنه جنگ تاریخی فیصلی شاملی دی.

پ: که اپوزیسیون (دهم آهنگی شورا) له تاسو سره په تجویز شوی شورا کی برخه وانخلی نو څه فکرکوی چی دغه لویه جرگه به دعقد اوحل دشورا غوندی دیوی بلی دردونکی جگړی پیلامه نه وی؟

ځ: زه پدی عقیده یم چی اکثره جهادی مشران دخیرپه غونډی ناست اوخپل ځان اوولس غولولی اودروانی خونړی ډرامی ننداره کوی نوکه چیری دوی ددغی وضعی په اړه همداسی بی تفاوته پاتی شی نوشاید نتیجه ئی دتیری شوراڅخه هم بد تره وی خوکه چیری هغوی خپل مسئولیت ادا ،کړی اوپدی جرگه کی گډون وکړی نوملگری ملتونه، اسلامی کنفرانس اونورنړیوال سازمانونه به ئی ترشاودریږی اوهیڅ تخریب کاراوجگړه ماریه بیا ددی جرئت پیدا نکړی چی دسولی پروسه سپوتاژکړی اویا راکټ اوکلاشینکوف ته لاس اوږدکړی.

پ: دهم آهنگی شورا د سیاسی ابتکاراتو او پوځی تاکتیکونو په اړه موځه نظر دی ؟

ځ: دهم آهنگی شورا دهغه زوراو له موده پریوتی موټرحیثیت لری چی بواځی ناآشنا خلك وریاندی تیروځی خومستریان ئی پیژنی چی هم ئی انجن ناکاره اوهم ئی باډی له منځه تللی ده ،دغه یوعجیبه اوغیری فطری ائتلاف دی چی ډیرژر به خپل منطقی انجام ته ورسیږی.

پ: تاسولی ددوستم سره دومره جدی مخالفت اوحساسیت لری پداسی حال کی چی تیر کال پو هاند ربانی دقطردتلویزیون سره په مرکه کی ویلی چی نوردملیشه په نوم کوم ځواك اوارگان وجود نلری اوهمدارنگه دهم آهنگی دشورا یوی ترجمانی جریدی دپوهاند ربانی هغه لیك خپورکړ په کوم کی چی دوستم ته دورور، مجاهد اوسترجنرال خطاب شوی وؤ!!

ځ: ددوستم په اړه له لومړی ورځی څخه ترننه پوری یوه غلط فهمی موجود ده حتی چی زمونږ ډیرمحترم ورونه چی په دولت کی لوړمقامونه هم لری ذهنیتونه ئی پدی ارتباط گردجن اومشوش دی.

حقیقت دادی چی ددوستم اودهغه ملیشی دافغانستان اسلامی دولت ندی تشکیل کړی بلکی دا دروسانو او افغانی کمونستو باڼډونو دفساد زیږنده ده چی دځینو لږه کیو (اقلیتونو) بی سواده اوبی فرهنگه ځوانان ئی راټول کړیدی اوکله چی اسلامی حکومت جوړشو نو ددغه ملیشو سیاسی اوپوځی وجود له مینځه نه ؤ تللی بلکی بواځی اغیزمن رول ئی له لاسه ورکړی ؤ اوځما په فکردجهادی مشرانو دغسی مجرمینو ته عمومی بښنه تاریخی اشتباه وه ځکه دی کار

دمجاهدینوداخلی تودوالی اوحرارت له مینځه یووړاودکفاروپه وړاندی ئي دغبګ اخیستنی روحیه تقریباً مړه شوه.

همدارنگه ځینی هغه جهادی مشران چی دجهاد په ۱۶ کلنه دوره کی له ټولو امتیازاتو برخمن ؤ اودجهادی امکاناتوڅخه ئی بواځی دخپل کوراونژدی خپلوانواودوستانو لپاره استفاده وکړه بالخصوص حضرت صیب مجددی زیار وویست چی دخپل کمزوری تنظیم اوپه هیڅ حساب عسکری ځواك دپیاوړتیا لپاره ددغه کالبوت څخه دقیادی شورا دمتعدد وپریکړو باوجودکاروانخلی اوپه هغی کی سیاسی ساواچوی ځکه هغه غوښتل چی ددغوملیشودخپلولو په صورت کی به وکولای شی خپله دوره تمدید کړی.

ولی متاسفانه کله چی دولت دهغوی پرضد جهاد اعلان کړنوهغومشرانو چی مونږئی پدی تورن کولوچی تاسو کمونستی بقایاوی په خپل څنگ کی ځای پرځای کړی یوه دتایید اوملاتړابلاغیه ئی هم صادره نکړه.

پ: که چیری دوستم له حکمتیارڅخه جلاشی نوآیا تاسوبه بیا هغه دخپلی اسلامی اردوی جز ونه گڼی؟

ځ: نه هیڅ کله نه.

پ: ځینی سیاسی اومطبوعاتی حلقی وائی چی په تاسودانحصارطلبی اوځان غوښتنی روحیه غالبه ده اودبیلگی په توگه وائی چی په ریاست جمهوری (ارگ) کی مویواځی بدخشیان اوپنجشیریان ځای په ځای کړی اوپه رادیواوتلویزیون کی موپښتونشریات کم کړی اواکثره خپرونی دری ژبی ته تخصیص شویدی څه فکرکوی چی داهم تبلیغات دی.

ځ: لکه چی تاسو پوهیږی دښمن اول جنگ کوی اوچی کله ماتی وخوزی نوبیا پروپاگند کوی مونږ دجنگ په حالت کی یونه کافی نشراتی مواد لرواونه دهغی دخپرولولپاره تخنیکی وسائل اوانرژی، دادحکمتیارصیب پالیسی ده چی کله جنوبی ولایتوته لاړشی نوخلکو ته په خپلوبیانیوکی وائی چی (ای خلکوورسته لدی په کابل کی ستاسو پگړی بی قدره شوه که خان گڼی نوهمدا مووخت دی؟!

پښتواودری یوشان دافغانستان ملی ژبی دی اویوه په بله هیڅ فوقیت نلری اوپه ارگ کی دیو سمت اویا تنظیم دافرادودموجودیت په اړه به همدو مره ووایم چی ارگ خوهم آهنگیانو په کنډوالوبدل کړی نوهلته دبدخشی اوپنجشیری خبره څه مانالری کاشکی چی دوی دغه ملی شتمنی پرخپل حال پریښی وای !!

پ: دهم آهنگی شورا تاسوته ائتلافی اداره وائی ددی څه وجه ده؟

ځ: داسوال باید له هغوی څخه وشی ځکه حکمتیارصیب دغه نوم پرمونږ هله کیښود چی دوستم څمونږپه څنگ کی ولاړوواوس خوباید دا لقب پرخپل ځان باندی کیږدی ځکه ددولت سره خوپوهاندسیاف مولوی محمد نبی اوآیت الله محسنی ولاړدی اودهغه سره دوستم اوجنرال تنی.

پ- دملگروملتونوځانگړی استازی محمود مستیری دولت پدی تورن کړچی دهغه دهڅو دویم پړاوځکه ناکامه شوچی تاسوورسره همکاری ونکړه نوتاسودهغه سره دخپلی کتنی په ترڅ کی ورته څه وویل ؟

ځ: مونږهغه ته وویل چی ستاسوهڅی باید تا پیبلی، هراړخیزی او په واقعیتونوولاړ وی اوکوم تورچی تاپه دولت لگولی هغه دیوی مشخصی ډلی پروپاګند دی اوستا ماموریت ته زیان رسوی.

مونږداهم ورته وویل چی ستاسواداره خودشپږوکالوراهیسی پدی لټه کی وه چی مونږله نجیب سره یوځای شواومختلط حکومت ورسره جوړکړوخوچی کله مودغه پلان ناکام شواوس را باندی لنگر(فشار)اچولی چی خامخا دوستم

دیوسیاسی تنظیم په توگه ومنی په داسي حال کی چی مونږ ورته په هیڅ صورت کی چمتو نه یو.

که ملگری ملتونه په ریښتینی اوصادقانه ډول غواړی چی څمونږستونزه حل شی باید خپلی هڅی دهیواد دننه دمختلفوپرگنوسره په تفاهم

گړندی کړی ځکه نورددی وخت تیرشوی چی یوازی دغه نه تنه مشران ددی ملت برخلیك وټاکی اودخپل انفرادی ذوق اوتنظیمی مصلحتونو پرښسټ دمنم اونه منم پریکړی صادری کړی.

پ: دمحترم پوهاندسیاف رول اودریځ ته په کوم نظر گوری؟

ځ: ماته ځان لدی ډېروړوکی ښکاری چی زه دهغه په عالی شخصیت او نه ستړی کیدونکو مجاهدانه هلوځلو باندی تبصره وکړم خو یواځی همدومره به ووایم چی ددولت سره هغه همکاری اودریدل څمونږدټولو لپاره دیو اسلامی سند اوتاریخی شاهد حیثیت لری.

هیاهوی مداخلهء هند درافغانستان از افسانه تا حقیقت

چند روزقبل قطب الدین هلال یکي از سخنگویان ائتلاف همآهنگي برروي صفحات یکي از جرائد پاکستان که حیثیت ناشر افکار ائتلافیون را بخود گرفته است ،باردیگر به هند و روسیه هشدار داد که در افغانستان مداخله نکنند!

از روزیکه ائتلاف همآ هنگي تحت سر پرستي اربابان خارجي ائتلافیون تشکیل شدو دست به کودتاي ناکام زد تا امروز هر باري که ملیشه هاي این ائتلاف در میدان مقابله با سپاهیان اسلام دچار شکستهاي خرد کننده و مرگبار مي شوند و یا کمکهاي نظامي و مالي هنگفت از باداران خود بدست مي اورند، بمنظور پوشانیدن شکستهاي خود ومداخلهء عریان و آشکار اربابان خویش در امور داخلي کشور ما هیاهو براه مي اندازند که هند و روسیه در امور داخلي افغانستان مداخله مي کنند!

جالب اینجاست که درین هیاهو علاوه بر سران ائتلاف (دوستم، مجددي،حکمتیار) افغان ملتي ها نیز شریك مي شوند و گهگاهي نهیق سر میدهند که هاي مگذارید که هندوها و روسها در افغانستان مداخله مي کنند!! در حالیکه دوستي وروابط برادرانه و رفیقانهء این چاکران استعمار با گروه نشنل پارتي پاکستان برهبري ولي خان و اجمل ختك به فرد فرد ملت مظلوم ما آشکار است و چاکري و غلامي نشنل پارتي به روسیه و هند آشکارتر!

افغان ملتي ها حتي زمانیکه عساکر اشغالگر روسي در افغانستان به قتل عام ملت ما مصروف بودند وولي خان براي این قتل عام کف مي زدوشادي میکرد و به شجاعت (!)و دلاوري (!)روسها و مزدوران خلقي و پرچمي شان تحسین مي گفت و مجاهدین را مزدوران امریکا و مهاجرین را فراري مي نامید،و آنها را مورد طعن و لعن قرار مي داد ،با ولي خان و گروهش یکجان و یکدل بودند و نشست و بر خاست و تماس و مراوده داشتند و همین حالا نیز نشنلست هاي افغاني و نشنلست هاي پاکستاني بقیادت اجمل ختك وولي خان چنان با هم محشور و مخلوط اند که توگویي افراد یك خانواده اند!

مي گویند دوست دوستت، دوست تونیز هست بنابرین هندوهاوروسها دوستان بلکه آقایان نشنلستهاي پاکستاني بودند وهستند ونشنلستهاي پاکستاني یاران ودوستان نشنلستهاي افغاني ... لذا طبیعي است که هندوها وروسها آقایان گروهك صد پارچهء افغان ملت ویا نشنلستهاي افغاني هم مي باشند ولي اینك این مزدوران فاشست نیز با کمال وقاحت از مداخلهء هند وروس وکمك آنها به دولت اسلامي افغانستان حرف مي زنند وهیا هو براه مي اندازند!درین شکي نیست که مداخلهء خارجیها در افغانستان وجود دارد واین مداخله بیشتر ازطرف همسایگان ما صورت مي گیرد بویژه از طرف رژیم کمونست ازبکستان که از صبحگاه پیروزي مجاهدین و تشکیل دولت اسلامي آغاز گشته وتااکنون نه تنها ادامه دارد بلکه شدت نیز یافته است .

حکمتیار عضو درجه سوم در ائتلاف هماهنگي در گذشته بصراحت به رژیم کمونستي ازبکستان هشدار داده بود که مداخلات خود در افغانستان را متوقف سازد واز دادن کمکهاي بیدریغ نظامي ومالي به جنبش کمونستي دوستم دست بردارد. آنوقت انگیزه ء این مداخله وکمكء همنژادي وهم عقیده بودن دوستم وکریموف قلمداد مي گردید زیرا هردوکمونست وملحد و پیروعقیدهء کمونستي هستند اما اینك ازاین مداخله با وجود ادامه داشتن وشدتش ازآنجهت انکار صورت مي گیرد که دوستم ازکنار دولت به کنار حکمتیار رفته است همین وبس!!

اکنون بعوض مداخلهء ازبکستان وترکیه وایران مداخلهء روسیه وهندعنوان مي گردد واین ادعا را ائتلاف هماهنگي وبعضي ازجرائد پاکستاني باآب وتاب زیاد هرچندروز بعد تکرار مي نمایند و دلائل و اشکال مختلفي براي این مداخله بیان مي نمایند که اکثراً مضحك و مسخره است و دروغ بودن آن روشن تر از روشني روز،مثلاً داستان دپلوماتهاي هندي که بجلال آباد رفته بودند تا در آنجا کونسولگري کشور خود را قائم سازند اما قواي حکمتیار آنها را به اسارت گرفته و بعد قواي مسعود بعد از جنگ با حکمتیار آنها را آزاد ساختند!

و یا ادعاي اینکه در طیاره هاي آریانا از هند به افغانستان اسلحه و مشاورین و جاسوسان هندي فرستاده مي شوندو یا مثلاً فلان طیارهء افغاني که در میدان هوائي پشاور قرار دارد توسط نیروي هوائي پاکستان مجبور به فرود آمدن گردیده است زیرا در آن جاسوسان «را» وجود داشتند و آن جاسوسان با عملهء طیاره به جاي نامعلومي برده شدند و احتمال افشاي اسرار زیادي وجود دارد!

اینها همه ادعا بوده و ائتلاف همآهنگي و جرائد هم پیمان شان در مطبوعات پاکستان نه تنها قادر به اثبات آن نشده اند بلکه احیانا رد بعضي ازین موارد ازطرف حکومت پاکستان، باعث شرمندگي شان نیز شده است!

دولت اسلامي افغانستان نیز بار بار از مداخلهء خارجیان در امور داخلي افغانستان سخن گفته و ازازبکستان درین رابطه به صراحت نام برده است و براي اینکه ثابت گردد چه کشورها و چه دستهائي درامورداخلي افغانستان مداخله میکنند ،پیشنهاد کرده است که ناظرین سازمان ملل متحد در سرحدات افغانستان مستقر شوند اما این پیشنهاد به سرعت از طرف کساني که ادعاي مداخلهء هند در امور داخلي افغانستان را مي نمایند ردگردید ،در حالیکه بهترین وسیله براي اثبات این ادعاعملي کردن همین پیشنهاداست .

استقرار ناظرین سازمان ملل متحد در سرحدات افغانستان مي تواند مداخله و مداخله گران را نشاندهي کند و اگر ائتلافیون همآهنگي از ناحیهء مداخلهء بیگانگان در افغانستان تشویش دارند -چه این بیگانگان هندو ها باشند و یا روسها و یا ازبکها و.... -چرا ازین پیشنهاد استقبال نکردند و آنرا رد نمودند ؟!

زیرا درینصورت مشت خود آنها باز مي شد و عکس ادعاي شان ثابت مي گردید و ملل متحد و جهانیان مي دیدند که مداخله در افغانستان صورت مي گیرد ولي به نفع ائتلاف هماهنگي وبضرر ملت آزادهء افغانستان! سخنگویان ائتلاف هماهنگي ازمداخلهء هند وروسیه سخن مي گویند ولي نمي فرمایند که این مداخله از کدام طریق صورت مي گیرد زیرا هند و روسیه با افغانستان سرحد مشترك ندارند و مداخله وقتي مؤثر است که از طریق زمین و

صفحه ۵

دوه پکه هغه هم سره ورك

دافغان ملت دکلني پاڼي «استقلال» دځواب په ځواب کي

څه موده وړاندی مونږ پخپلی یوی گڼی کی دڅور د(۷) نیټی په اړوند دافغان ملت دځو تنو ډلگی یوی‌نوی اعلامیی ته چی اعلامیه هم نشوورته ویلی«شب نامی» ته ورته وه څکه پټ په پټه ویشل شوی وه گوته نیولی وه اودهغو بی ځایه تبلیغات اوکنځلی موردکړی وی څلورمیاشتی وروسته اوس دهغوی یواخبار«استقلال» چی بهترده کلنی پاڼه یی وبولو څکه چی روان هجری شمسی کال کی به داددوی لومړی گڼه وی بنایی بل کال کی بیابله گڼه چاپ کړی زمونږ لاس ته راغلی اوپه هغی کی زمونږ دلیکنی اوگوتی نیولی حواب د«ستمیان دافغان ملت په ضد داتحاد اوماوویستانوله سنگرونونه استفاده کوی» ترسرلیك لاندی لیکلی ؤ‌ا د۱۳۷۳ کال دزمری میاشت کی خپره شوی گڼه ده چی دپرله پسی (۴۹)می گڼی سره سمون خوری دکلن پاڼی پرمخ عکسونوته چی ځیرشی ته به وایی چی دادځوتنوپوډریانوډلگی ده اوټول دزیری په ناروغی اخته دی په دی دبرستنی په بنه خپری شوی کلنی پاڼی کی دکنځاوپرته بل څه نشته خوتر ټولو جالبه داده چی د(ملك تراش بانډبله لوبه پیل کړه) ترسرلیك لاندی مطلب کی دځان په شان له ټولنی څخه رټل شوی امین واکمن ته هم بددویلی چی دی کاربی مونږته هغه متل په یاد راوست چی «دوه پکه هغه هم سره ورك» دا بیچاره گان دوه تنه دی یوشمس الهداشمس اوبل امین واکمن هغه هم دیوه بل سره مخالف! شمس الهدا یوکال منډی رامنډی وکړی په غلا،غلا یوڅه پیدا کړی داستقلال په نامه کلنی پاڼه راوباسی چی هغی کی دیوی خوا دمجاهدینو مشرانو ته کنځا وی اودبلی خوا امین واکمن باندی عقده سروی امین واکمن هم کله دډیلی کله دالمان دروازی وټکوی بیاڅه منډی را منډی پیل کړی بالآخره چی نتیجه ورنکړی بیا مجاهدینوته کنځا وکړی اوشمس الهدأ ته بدردووایی اوسره ورك شی دابیچاره گان څه وکړی له ټولنی څخه رټل شوی فکراوعقیده یی دخاوروسره خاوری شوی زیاتره افراد یی دمرکزی کمیسیون په گډون دکارمل په وخت کی دخپلوملگرو کمونستانواوکمونستی رژیم سره یوځای شول اویونیم بل چی پاتی شوورته ثابته شوه چی دادپردیوپه لاس جوړه شوی ډلگی ده په ټولنی اوخلکوکی ځای نلری څکه یی خپله لارونیوله پاتی دی دادوه بیچاره گان چی په غلا شپی ورځی سباکوی اوپه زغرده دافغانانوپه وړاندی هیڅ چیرته غږ نشی پورته کولای.

د«استقلال» په کلن پاڼی کی دوی وایی چی استاد سیاف مرموز ولاسونو له زندان څخه خوشی کړ ددوی خبره سیی چی دوی ریښتیا په الله(ج) ایمان نلری څکه که پر الله(ج)یی ایمان درلودی داخبره به یی نه کوله دمرگ اوژوند فیصله دالله(ج) کاردی نه دامین،ببرك او نجیب، بل داچی پرچمیان دخلکو دجلبولو لپاره او ددی لپاره چی دایی ښودلی وی چی له تیر رژیم سره توپیرلری دهغوی له کړو وړو نفرت لری دهغوی وگړیزضد شومی هلی ځلی غندی - واگی ته له رسیدلو سره سم یی امنیتی مقاماتو ته امرورکړچی ټول سیاسی بندیان خوشی کړی هماغسی وشول خو چی کله دی ټکی ته متوجه شول چی ددی بندیانو په منځ کی ډیر ملی مؤمن

مجاهد شخصیتونه هم شته په دی تکل کی شول چی هغوی بیا ونیسی دزندان سیمی په کلابندی کی ونیولی شوی ډیرکسان بیا ونیول شول مگر استاد سیاف ځان بنکلی ؤ په هغه مهال دځرخی پله له زندان څخه را خلاص شوی کسان ټول دوی صحنی شاهدان دی او یودوه منفور،بی هویته او شخصیت با بللی کافر عناصر دهغوی په وړاندی هیڅ ارزښت نه لری... هو! استاد سیاف ستاسو داجرائیی شورا په شان دکمونستی رژیم دتشریفاتوگارډ په مراسموکی نه دی خوشی شوی اونه یی هم ستاسی دشوراپه ځیردتلویزیون پرپردی له خپلو تیروکړو پښیمانی ښودلی.

همدارنگه استاد مرموزولاسونو نه دملت نماینده احزابوله خوځی جهادی او اسلامی گوندونه شی داتحاد مشروټاکل شوپه هغی کی دده جهادی مبارزه دروند شخصیت اوقاطعیت عالم توب اوزیرکی ژورلاس ؤداتحاد اسلامی اخباردپیل څخه دهیواد دښمنانو تجزیه طلبانو روسانو اوکمونستانو پرضد دخپل گوند دترجمان په توگه مبارزه کړی او خپل مسئولیت یی اداکړی که دروسانو دیرغل په وخت کی یی روسان کمونستان اودپردیوگوډاگیان غندلی کله هم چی مجاهدین کابل ته ننوتلی اوهلته یی حکومت جوړکړی بیایی هم خپله برحقه لارتعقیب کړی اودحق آواز یی پورته کړی که پخوایی برغلگرغندلی ترهغی وروسته یی ملیشی کمونستان تجزیه طلبان،ستمیان،شعله یان اوافغان ملتیان ټول کافر گوند ونه غندلی او دهغوی اسلام دښمنه ځیری یی خلکوته ښودلی دی.

دتاسوپه ځیر دپردیو گوډاگیان یي غندلی اوپه دی نظرټینك پاتی شوی چی مونږ،کمونستان اودپردیوگوډاگیان په هیڅ نامه نشوزغملای اودا یواځنی اخبار اوگونددي چی داویاړلری،مونږ پخوا تردی نه دهیواد اصیل وارثین اوبچی غندلی اونه یی نن غندوپخوا موهم ددی هیواد داصیلوبچوله هځوچی دوحشی یرغلگرله شرڅخه دهیواد خلاصول اواسلامی حکومت جوړولو ملاترکړی اونن هم دهیواد داصیلو بچودارمان دتحقق په خاطردهغوی له هڅواوحکومت څخه ملاترکوو.

نه پوهیږوچی ستاسو مراد دهیواد له اصیلوبچوڅه دی ځان دهیواد اصیل بچی بولی چی دروسانو دیرغل په دوران کی دکبابیانو په کومه سوړه کی ناست وی ځوك نه وچی روغبړ درسره وکړی هرافغان به لاړی درتوکولی اوکه دوستم.

دوی په یویل ځای کی وایی استاد سیاف دپغمان په فیل خانوکی اوسیږی خو یوشی یی له یاده وتی چی دایی هم لیکلی وی چی زمونږ قوتونو بالاحصار،مرنجان غونډی دتجزیه طلبو ملیشواو دپردیو له گوډاگیانو ونیول ؟! اواوس هم دهیواد په گوټ گوټ کی دتجزیه طلبانواوپردیو دگوډاگیانو پرضد مبارزی باندی بوخت دی ؟!!

څکه که دا خبره یی هم کړی وی لابه ریشخند شوی وی څکه ټول پوهیږی چی شمس الهدا چی په یواځی حان گوند هم دی اجرائیه

شوراهم ده داخبارمسئول هم دی اودجبهی قوماندان هم دی خلاصه داچی نوموړی دپساری دکان دی ذکبابیانو له ټمجنی کوټی راوتلی اوبیچاره نه په ځمکی کی بالمخصوص افغانستان کی یوه لویشت ځای لری چی عقدی پری حل کړی اوخپل غږ پکی وباسی کم بخت دکبابیانوپه ټمجنه اوتیاره کوټه کی کینی په ډار، ډارڅه ولیکلی اوبیایی په ډاردشب نامی په ځیر وویشی څکه پوهیږی هرافغان بی چی وگوری اوپوهیږی چی داددی بدنامی ډلی پاتی شوی دی گذارونه پری کوی.

د«استقلال »کلن پاڼه په یوه بله برخه کی پخپله ضدونقیض خبری کوی یوځل وایی چی داستاد ربانی حکومت چیرته دی اورا لاندی کرښوکی بیا وایی کله چی دولتی چوکی ویشل کیدی د بهرنیو چارو وزارت چوکی یی دمحاذ ملی غړی امین ارسلا ته وسپارله هماغه چی وایی دروغجن حافظه نلری دلته ښه تطبیقیږی دوی چی په لومړیو کرښوکی دادرواغ ویلی وروسته یی بیا خپله رد کړی بله داچی دافغانستان په ډیروولایاتوکی داستاد ربانی په مشری داسلامی دولت قواوی والیان او نورو دفاتر فعال دی اوکار کوی اوپه کومو ولایاتو کی چی ددوی تجزیه طلب ملگری تخریبی کارونه کوی هغه هم دله منځه تلو په حال کی دی.

د«استقلال » کلنی درواغ پاڼه اوکنحل پاڼه په یوه بل ځای کی دمجاهدینومشران اورهبران دپردیو نوکران بولی «اوافغان ملت» چه اوس دشمس الهدا او واکمن پرته نورڅه نشته دهیواد اصیل بچی بنیی او وایی چی په دی (۱۴)کلونوکی له هر ډول نړیوالو مرستو محروم پاتی شوی خودانه وایی چی داد کاغذ پرمخ دهیواد اصیل بچي ؟!! خوتنه دی دا مجاهد ملت عملاً دا شپاړس کاله ددوی ترشاولاړ دی که دمجاهدینو اسلامی گوندونو ترشا ولاړو؟عملاً همدا اوس ټول افغانستان داسلامی گوندونو ترشا ولاړدی که دپردیو دنوکرانواوتجزیه غوښتونکو ترشا !! که ملت ستا دکاغذ پرمخ دهیواد اصیل بچو؟! ترشا ولاړوی نواوس به مو دهیواد په دننه کی داسی ځای پیداکړی وی چی خپل غږ پورته کړی بله داچی دپردیو گوډاگیان خوهغه دی چی غواړی په افغانستان کی دپردیو په مټوژوندوکړی یعنی تاسو چی دروسانو په موجودیت کی ومرکزی کمیتی همالته ورځی شپی سبا کولی خو ا فغانان ټول دهغوی پرضد راپورته شوی ؤ اودهیواد په سنگرونوکی و او اوس هم ددی لپاره چی هیواد ته حتی په پټه هم تللی نشی دملگرو ملتو پوځ راغواړی ترڅودهغه په سیوری کی ځان افغانستان ته ورسوی خووپوهیږی چی افغانستان دمجاهدینو مسلمانانو اویا شهامته خلکو هیواد دی اوهغه کی دپردیونوکران اوتجزیه غوښتونکی ژوند نشی کولی دوی په یوبل ځای کی بیاپه ډیری سپین سترگی دعواکوی چی دکمونستی رژیم پرضد لومړی مونږپاحون کړی اودی کی شماره وارد ننگرهارډپوځی قطعی

پاڅون دریشخور بالاحصارکنړ او ننگرهاردپاڅونونو نوم اخلی اووایی چی دی سیموکی لومړی غږ مونږ پورته کړی خو دابی شرمان نه شرمیږی چی دی سیمه کی پاڅونونه دلمړپه شان ځلیدونکی واو هغه له هیڅ چاپټ نه دی او چاچی دلته پاڅونونه پیل کړی وعملاً یی نن داسیمی ترکنټرول لاندی دی تاسوچی دټولنی څخه رټل شوی یی که دلته موعملاً دیوه مجاهد په صفت حضور درلودی نن خوبه موکولی شوی هلته ژوند وکړی خوښه یوهیږی چی دمجاهد ملت پرضد موجبهه نیولی وه څکه اوس له ډاره ددی مجاهد ملت په مینځ کی خبری نشی کولی اونه ورتلی شی.

دوی بیا را لاندی کرښوکی دجمعیت اسلامی افغانستان په نوم یو مکتوب هم چاپ کړی او وایي چی هغه کی استاد ربانی له مونږ غوښتی چی زه حاضر یم له تاسو سره اتحاد وکړم خودمکتوب له متن څخه په روښانه معلومیږی چی هغه جعلی دی څکه یوخو بیخی نیټه نلری بل داچی متن په قلم لیکل شوی اورالاندی بیا ټیپ شوی چی برهان الدین «ربانی» رهبر جمعیت اسلامی افغانستان چی دا کار په یوه بل مکتوب کی هم نه دی تکرا رشوی یعنی داسی چی سرکی دگوند وسمبول ترڅنگ جمعیت اسلامی افغانستان ټیپ شوی وی اورالاندی استاد برهان الدین ربانی رهبر جمعیت اسلامی ټیپ شوی وی او متن په قلم لیکل شوی وی په مکتوبونوکی خوسمبول اود گوند نوم او نیټه ټیپ شوی دی او انگلیسی ژباړه یی وی خورالاندی دگوند دمشر اونوم یی نه وی ټیپ شوی اوکه بیا متن ټیپ شوی و ساده و چی تاسو ته یی داسی مکتوب درلیږه اول خو هغه ترټولو دمخه تاسی ښه پیژنی چی تجزیه غوښتونکی او دپردیو گوډاگیان یی دوهم داچی تاسو سره کوم قوت وچی هغه له تاسو دا غوښتنه دسیاسی مصلحت په خاطر کړی وی.

داستقلال» دکلنی پاڼی چاپوونکی اولیکوال دومره بی خبره دی چی یوه ځای کی جنرال فهیم هم کمونست بللی او ویلی چی هغه دپخوانی رژیم کمونست جنرال دی په داسی حال کی چی جنرال فهیم دجهاد په دوران کی په پنجشیرکی داحمد شاه مسعود سره ؤاودشورای نظاردسیاسی چارومسول ؤ هغه په کمونستی رژیم کی هیڅ دنده نه ده اجراکړی دوی په یوه بل ځای کی بیا وایی چی تاسوپرچمیان ،شعلیان، اوستمیان، مسلمان بولی اوافغان ملتیان کافربولی خوبیچاره گان خبر نه دی چی داتحاد اسلامی گوند اودهغه دهڅو ترجمانه جریده یواځنی گوند دی چی دسرڅخه کمونستان، غربیان دپردیوگوډاگیان تجزیه غوښتونکی شعلیان،ستمیان افغان ملتیان پرچمیان اوخلقیان غندی دادپردیو گوډاگیان اوافغان مجاهد څخه رټل شوی افراد بولی اودی برخی کی هیڅ تنزل نه دی کړی مونږ،که پرچمیان ،خلقیان، تنی ببرك غندلی ملیشواودوستم موهم نه دی پریښی که افغان ملتیان مو غندلی شعلیان اوستمیان موهم نه

دی تبرئه کړی هغه هم غندو څکه هغه ستاسوپه شان بی دینه دپردیو گوډاگیان اودملت څخه رټل شوی افراد دی مونږ همدا اوس هم وایو چی دوستم، بابه جان،پرچمیان افغان ملتیان ،خلقیان ،شعلیان اوستمیان دپردیوگوډاگیان دی باید له منځه یووړل شی او محاکمه شی خوبرعکس تاسو په همدی گڼی کی ددوستم څخه چی دخلقیانو،پرچمیانو ستمیانواو شعلیانوڅخه جوړه شوی ډلگی ده دفاع کوی اوهغه دهیواد اصیل بچیان بولی په داسی حال کی چی په همدی په اصطلاح دسمت شمال جنبش کی دشعلیانو استازی کریم زارع دی پراستاد ربانی اومسعود ددی په خاطر چی مجاهد ین دی اومسلمانان دستم ملی اوتجزیی غوښتنی ټاپه وهی اودوستم چی څو څلی دتجزیی غږ پورته کړی څه نه وایی آیا همدا دوستم نه ؤچی دسمت شمال دجلا کولو غږ یی پورته کړ؟! آیاهمدا جنبش نه ؤچی دخراسان په نوم طرح یی دامریکا د آسیایی چارولو مسئولی رابن رافیل سره ترلیدنی وروسته اعلان کړه ؟! آیا ړانده یی چی څوځلی په پیام توحید کی چی دجنبش نشریه ده اوله مزارشریف څخه خپریږی دجنبش مشرانو او دهغی جملی نسیم مهدی په زغرده وویل چی مونږنورنشو منلی چی پښتانه دی پرمونږ حکومت وکړی هغوی پرمونږ(۲۰۰) کاله ظلم او زور زیاتی کړی ؟!! خوتاسو ددی ټولو سره سره پرهغه پرده اچولی اوهغه دهیواداصیل بچی بولی او استاد ربانی ته دستمی او تجزیه غوښتونکی خطاب کوی،کولی شی یوورکوټی سندو ړاندی کړی چی دوی دی په هغه کی دډبی سمت اویاتجزیی غوښتنه اوخبره کړی وی نومعلومه ده چی نه یی لری اونه یی پیدا کولی شی تاسو په دی خاطرچی مجاهدین مویدنام کړی وی اودهغوپسی موږهلی وی دا تبلیغات کوی.

د«استقلال» دکلنی پاڼی بی سواد اوبی حافظی لیکوال یو ځای کی وایی تنی دپرچمی نجیب پرضد قیام وکړاواوس په میزبان هیوادکی دی خو بابه جان اوس هم دگارنیزیون قوماندان دی دا بیچاره دومره نه دی خبرچی بابه جان هم دپرچمی نجیب پرضد دمجاهدینو مرسته وکړه خواوس یی هم مونږنه تاییدوو او محاکمه یی غواړو خو تنی خوهم په میزبان هیوادکی دصلحی دمبارزینو په نوم دپردیو په اشاره گوند اعلان کړی او داځلی بیا دتاسو او دپخواپه شان چی مخکی روسان رابللی واو هغو په مټو یی شپی سبا کولی اوس دتاسو په شان ملگرو ملتو قواوی راغواړی که بیاد جنایت کولو اوهیواد دخرڅولو په لاره کی څه وروروسیږی اوبله داچی ته دپردیو گوډاگی اوجارچی نه یی خبرچی کارمل، دلاور اونوروکمونستان ټولی چیرته دی هغوی ټول په مزارشبرغان اوحیرتان کی دی اوځینی دخپل بادارکریموف ترسیوری تاشکند او ازبکستان کی شپی سبا کوی.

داستقلال بی سواده اوبی خبره لیکوال یوځای کی وایی چی ته ماته دحزب اسلامی په جبهه کی کمونست راوښیه چی دکومی جبهی اومهمی اداری مسئولیت په غاړه لری ؟! خو دده دا خبره اوپوښتنه دی ته پاتی کیږی چی فیلان په ښه وهي بی خبره حزب خپل تکره تکره قوماندان دکمونستانو ترقوماندی لاندی

۷مخ

دپاکستان په مطبوعاتوکی دافغانستان دکشالی انعکاس

په افغانستان کی د۱۳۵۷کال دغوبی له کمونستی کودتا نه وروسته دټولی نړی مطبوعات بیا په خاصه توګه زموږدګاونډی ملکونو (پاکستان اوایران) په مختلفوڅپوکی خپرونې ددی کودتا وروستی نتایجو ته متوجه شول ځکه چی له یوه پلوه داکودتا مستقیماً له روسیی نه رهبری کیدله اوله بله پلوه نړیوال په دی پوهیدل چی په افغانستان کی دروس مزدوروډلو دسیاست لوری اوجهت کاملاً دروسی کمونیزم تراغیزی لاندی دی نوکه چیری هلته کوم سیاسی تحول راځی دروسانوبه پری حکمرانی اوهماغوی به ددی سیاسی بدلون لاری چاری جوړوی او افراد به ورته ګماری.همدارنګه دافغانستان جغرافیایی استراتیژیك موقعیت دآسیا جنوب ختیځو هیوادونواولری ختیځ ته دهغه جلنج حیثیت غوره کری وچی که چیری دآسیا زړه (افغانستان) دکمونیزم په ولکه کی راشی نودا ټوله سیمه دختیځی اروپا په شان دکمونیزم دپرله پسی ګوابنونو،سټکیلاك اوزبیښاك لاندی راتللای شی اودافغانستان اشغال نه یواځی افغانانوته ستونځی پیداکوی بلکی سیمی اونړی ته هم خورا سترخطرثابتیدلای شی.

کله چی په افغانستان کی دغوبی کرغیړنه کودتا پلی شوه اوروسی دمقاومت غورځنګ خپلو لوړو پوړیوته ورسید٬هجرتونه پیل شول دجګړو شدت وموند، دجګړو په نتیجه کی انسانی اومالی تلفات منځ ته راغلل٬په دی مطبوعاتوکی دافغانستان لپاره یو نوی باب پرانستل شو خبرلیکونکی، خبری مبصرین سیاسی خبرلوڅی اومفسرین ټول په دی هڅه کی شول چی یوځل له نږدی نه افغانستان وګوری دمقاومت غورځنګ له مجاهدینوسره خبری اتری وکړی دهغوی دهدف نصب العین اونورجنګی وجوهاتو په باب راپورونه تهیه کړی اوددی بی ساری مقاومت دتاریخ په زړه کی ننوځی اوځان ته په کی دپښوځای پیدا کړی.

په دی هلوځلوپسی چی پاکستانی مطبوعاتوته بی په زړه پوری نړیوال وجاهت وبښه دلته اسلام دښمنی ډلی٬حلقی اومحافل چی مستقیماً له روسیی نه رهبری کیدل، تبلیغاتو مواد به دهغوی په اختیارکی ورکول کیده اودرویلو بډلونه ورته دافغانستان په بانکونوکی جمع کیدل هم دپاکستان په مطبوعاتوکی ځان ته لاره پرانستله هره ورځ به دیوتن کمونست ،نشنالست اومزدوری څیری مرکه٬پرس کانفرانس٬دبیا نیی یوه برخه٬دیوی بی دینی٬ډلی اعلامیه داسی خپریدل چی پرمجاهدینو او مهاجرینو به بی نیوکی اوانتقادونه درلود ... دمثال په ډول مجاهدینو ته به بی دفتنی پلویان ویل اومهاجرینو ته بګوړی اوفراریان کمونستانو ته به بی مهذب تعلیم یافته اودنړی له سیاستونو سره آشنا وګرو خطاب کاوه اوددی پر عکس مجاهدین اومهاجرین به بی وحشی بی تعلیمه اوله سیاست سره نا آشنا وګړی بلله ... په دی منځ کی داسی خلك هم وچی هغوی ته له سیاست سره نا آشنا سیاستمداران ویلای شولکه عبد القادرحسن چی دجنګ په ورځپانه کی د«غیرسیاسی باتی» ترعنوان لاندی دیوی برخی متصدی واو دمقاومت غورځنګ په منځنی دورکی دزبرکو کمونستانو په لمسه بی په مجاهدینو اومهاجرینوپسی منفی تبلیغات کاوه اوګڼی نوربه نوم پوهان (دپاکستانیانو په اصطلاح دانشوران) دپاکستان له ګټونه ددفاع ترعنوان لاندی پر مهاجرینو اومجاهدینو باندی به بی ټکی کولی خوپه کلی ډول دا پروپاګنډی دجنګ په اخبار کی ډیر راتلی اوګڼی داسی پاروونکی مضامین به هم په کی ترسترګو کیدل چی دپاکستان او افغانستان ددوومسلمانو ورڼو ملتونوترمینځ یی ددښمنی اورته لمن وهل

اوددسمن تبلیغاتی پروسی ته یی مواد برابرول دمثال په ډول دهغه وخت راډیوکابل کله چی په مهاجرینو یا مجاهدینو پسی دنړی پرمطبوعاتو نظرآچاوه اوپه دوی پسی بی منفی ټکی لټول نوله «پراودا» نه وروسته بی جوخت د«جنګ» فرنټیر پوسټ او«جدت» نوم آخیسته...

کله چی روسانو په ۱۳۵۸ کال دمرغومی میاشتی ٦ مه پر افغانستان نظامی تیری وکړ نوپه مطبوعاتو پوری ترلی ټولی ډلی په دوو برخوویشل شول یوه ډله چی علمی سیاسی وجاهت اورسوخ یی هم په پاکستانی ټولنه کی زیات وپه ټول قوت سره دمجاهدینو شاته ودریده اوپه عمومی ډول تردی عنوان لاندی چی افغان مجاهدین دپاکستان په دفاع کی جنګیږی سره متشکله شوه اوپه کارپیل کړه اوبله ډله چی پخواهم دروسانوډول ته ګڼیده داخل بی چی دروسانو دپوځی تیری زیری (!) واورید په لوړآوازیی شعارورکاوه چی «مونږبه دخیبرپه دروازه کی دروسانو دټانکونوبدرګی ته ولاړیو دهغوپرټانګونوبه ګلان شنیدواودعسکروپرغاړو به یی دګلوهارونه آچوو!!!»

په دی ډول دپاکستان په مطبوعاتوکی زمونږد قضیی لپاره دویم باب پرانستل شو په دی دورکی دافغانستان مجاهدینوډبرحقه دریځ په تایبدکی«جسارت»«تکبیر»اونیزه»«اردوډایجسټ »قومی ډایجسټ اونوای وقت ورځپانه ترټولوخپرونومخ کی ووپه دی خپرونوپسی جنګ ورځپانه چی پخوا به اسلام دښمنو ډلوپه کی دمجاهدینودوحدت په ضد ډیرخپرول، خپلی ډیری سرمقالی بی دافغانستان قضیی ته وقفی کړی اوپه خاصه توګه یی دمجاهدینو دوحدت په اړه یی ډیرمضامین خپرول خوله دی امله چی دهغوی خبرنګاران اوپیاوړی ژورنالستان افغانستان ته نه تلل اوله نږدی څخه یی پراوضاع باندی ځارنه نه درلودل په تبصرو اولیکونوکی یی ډیرځله ځینی داسی مسایل رامنځ ته کیدل چی زمونږله جهاد اوخلکوله روحیی سره ډډه نه لګاوه آن کله کله زمونږدمشرانو نومونه یی صحیح نه لیکل په یادمی دی چی یوځل له ډاکټراسراراحمدسره دیو اسلامی تنظیم مشرچی له جماعت اسلامی نه دبیلتون نه وروسته د مستقل تنظیم دمشرپه صفت دسیاست دګرته راوتلی دی مرکی ته کښیناستید ودهغه معلومات دافغانستان دجهاد، مجاهدینوپه پاکستان، کی دمیشته مهاجرینوپه اړه دومره ضعیف وچی موږبی دی ته وهڅولوترڅو پوښتنه وکړوچی تاسی ولی له افغان قضیی سره علاقه نه لری هغه موږته په ځواب کی وویل «زمونږ خپل ډیر مسایل دی وخت نشو پیداکولای چی افغان جهاد ته پام واړوو زما ملګری په غصه شو اوورته یی وویل : داسی ښکاری چی سره له قیادته (اسلامی قیادت درسره شته) دجهادپه فلسفه نه پوهیږی... مادهغه خبره غوڅه کړه اوومی ویل ډاکټر صاحب تاسی دقرآن مفسر یاست اودقرآن کریم ددی آیت په مفهوم ښه پوهیږی چی الله جل جلاله فرمایی :« ومالکم لا تقاتلون فی سبیل الله والمستضعفین من الرجال ....» نونه ښایی چی داسی استدلال وکړی ... مرکه په خیریت سره ختمه شوه اوموږروغ زمټ ښارته لاړو... دی مرکی همدومره ګټه وکړه چی وروسته له څوورځوډاکټرصاحب له یو شمیر پوهانو سره پیښورته راغی اودمجاهدینو غونډو نو څخه یی لیدنی وکړی ایله چی ددوی په خپرونوکی زمونږ دجهاد انګازی خپری شوی اود«ندا» پلنی دافغان جهاد په ادبی انځورونوکی ښکلی شوی...یو دوه دری تنه خپرونوکارکوونکی اومدیران لکه محمد صلاح الدین ،ابوذرغفاری،عبد الکریم عابد،

عبدالقادرحسن او... چی افغانستان ته کله کله تلل دهغوی سفرله پکتیا ولایت نه هاخوا نه اووښته خوسره له دی دپاکستان ولس بی ساری قربانی اوزمونږله جهاد څخه دهغوی ملاتړاوترټولو مهم داچی ددری نیم ملیونو مهاجرو افغانانو کوربه توب اودهغوی مثبته ډیپلوماسی او د جنرال محمد ضیا الحق شهید اودهغه دملګرو نړیوالی هڅی چی زمونږ دجهاد په تایبدکی یی کاوه زمونږ مجاهد ملت ته یی نوی نوی ولولی بخښلی په هرحال په مطبوعاتو کی هم له ځینو ناخوالو سره قوی اوځواکمنه جنبه داسی وه چی زمونږ له قضیی څخه په کلکه دفاع په کی کیدله اوله موږسره په فرهنګی جهادکی اوږه په اوږه مخ په وړاندی تلل.

مګرجهاد په دریم پړاوکی کله چی روسان له افغانستان څخه ووتل دلته دانجنیر صاحب احمدشاه په ریاست عبوری حکومت جوړشواوبیا وروسی دمدینة الحجاج له معاهدی نه وروسته یوبل عبوری حکومت جوړشو چی رئیس یی صبغت الله مجددی اوصدراعظم یی استاد سیاف و... ددښمنو ډلو له منفی پروپاګنډی سره چی ویل بی :« اوس په افغانستان کی روسان نشته، جهاد که و دهغوی پرضد واوس چی هغوی نشته جهاد - جهاد پاتی نشو بلکی فساد دی که څه هم دوی پخوا هم همدغه سوری وهلی او ویل به یی چی په افغانستان کی دروس اوامریکا ترمینځ جنګ دی، دی ته جهاد نشوویلای خپل منځی جګړه اوفساد دی! خودلته یی.داپروسه څکه تونده کړه چی له یوه پلوه یی دنجیب له خوا لوړینی پری زیاتی شوی اوله بله پلوه دروسانو له پلوه ورکړی روبلونه چی دنجیب ګوډاګی حکومت په بانکونوکی خوندی شوی و هغوی ته ویل شوی و چی که چیری تاسی په پاکستان کی خپل تبلیغاتی پروسه تند نکړی اوپه خواکی دبونو چاودنی عامه نکړی داپیسی به تاسی ته نه درکولی کیږی دیادونی وړده چی دبونو ایښودل اومنفجرول هم دهمدغودښمنوډلو په تخریبی پروګرامونو کی شامل وچی له انفجاراتو نه وروسته بی خپلو خپرونو ته جهادی ضد مواد برابرول اوپه خپرونوکی بی په افغانانو پسی دا تبلیغ کاوه چی دا بمونه همدغه افغان مهاجرین ږدی ترڅو له یوه پلوه مهاجرین په نړیواله سطحه بدنام کړی اوله بله پلوه دلته عواموته داسی تاثرورکړی چی مهاجرین ددوی دښمنان دی اوپه دی توګه ددوومسلمانو ورونوترمینځ دبی اعتمادی فضاپیدا کړی.

هو! ددښمنو ډلو ددی هڅو په څنګ کی زموږدوست مطبوعات په یووار په دی جهت کی په کار ولویدل چی دمجاهدینو وحدت وخپری لاری چاری بی په ګوته کړی مهمی اومفیدی مشوری ورکړی دحکومت له مشرانو اوعمومی قوماندانانو سره مرکی وکړی اوپه ټولیزه کی نړیوالوته داتاثرورکړی چی په مجاهدینوکی د حکومت کولوپوره ځواك شته اوله جزئی اختلافاتوسره دا توقع کیږی چی کله دوی په افغانستان کی چاری سنبال کړی دا جزئی اختلافات به هم له منځه ولاړشی ...

دجهاد په څلورم پړاوکی:

موږپیخواځوڅو واری په دی ټکی باندی ټینګاروکړ چی دپاکستانی مطبوعاتو خورا مهم باب دافغانستان قضیه ده هوداقضیه پراوپه پراوپه دی مهم باب کی اووښتی را آووښتی اوډول ډول نظریات بی په دی اړه منعکس کړیدی.

دجهاد په دی پړاوکی هم زمونږ دوستو مطبوعاتو خپل نقش په پوره ایمانداری سره ترسره کړ خوله بده مرغه په دی وروستیو کی آن هغه مطبوعات اوخپرونی چی اسلامی تعهد لری او دتعهد پر ارزښتونو اومعیارونو پرمخ ځی داسی

دریځ غوره کړ چی دهغوی دتعهدله شان سره نه ښایی دمثال په ډول تکبیر اونیزه چی دجماعت اسلامی له یوتن منوراومرورنامتو پوه له پلوه اداره کیږی اونشرته سپارله کیږی داسی دریځ غوره کړ چی اسلام ضد ځواکونو ته یی هم دومره ارزښت ورکړچی دمجاهدینو په څنګ یی ودراوه او دایی په ټینګه وویل چی دوستم دشمال غورځنګ یاپه مجموع کی کمونست ملیشی یو مسلم قوت دی دافغانستان دولت ته ښایی چی هغوی ته دمجاهدینوپه شان دحکومت په جوړولو کی مساویانه حقوق ورکړی یایی د هغو سکتارستانو اوتجزیه غوښتونکو وطن پلورو عناصرو چیغو ته مثبت ځواب ووایه چی هغوی په افغانستان کی دقدرت ویش دملیتونو دفورمول په مطابقتونو باندی ولاړ بولی حال داچی که چیری په افغانستان کی دملیتونوحقوق عنوان شی اوپردی بنا حکومت جوړ شی اواستعداد ونه ترپښتولاندی شی اول خواساساً حکومت نه جوړیږی اوکه بیا هم جوړ شی له خپل منځی جګړو اوشخړونه به هیڅکله دی ته اوزګارنشی چی٭دملت عمومی چاروته پاملرنه وکړی.

دتعجب وړخبره خوداده چی دجنرال حمیدګل اواسلم بیګ په شان جنرالان په همدغه ټکی باندی زور واچاوه اووخت ناوخت یی ددی جهت په پخلی کی بیانونه ورکړل...

دوی دنورو نظر خاوند انو په شان چی دهمدغه مضمون په ځینو برخو کی مواشاره ورته وکړاو دا مو وویل چی دوی دافغانی ټولنی له فطرت اومزاج سره آشنا نه دی اونه له نږدی نه په دی بریالی شوی چی حالات له نږدی وڅاری نوځکه ددوی قضاوتونه هم له عیب او نقص نه خالی نه دی که چیری دوی زمونږله ملت سره له نږدی نه وګوری اوداحقیقت درك کړی چی فکری اواعتقادی جنګ زموږدخلکوپه روح کی څومره نفوذ کړی؟دمجاهدینوواکمنی په دوران داکافر عناصرڅومره ظلمونه زموږدملت په حق کی کړی دی اوکوی یی ؟ ددوی اړیکی دافغانستان له بهرنی دښمنانوسره په کوم پړاواوپوزیشن کی دی نوضروربه دوی له خپل اوسنی دریځ نه واوړی اوپه دی جهت کی به ترکیزوکړی چی فقط مجاهدقوتونه سره یوشی اوګډ اسلامی حکومت جوړکړی اوبس.

هسی خودوی هم ښایی په دی حقیقت وپوهیږی چی په افغانستان کی دجنګ اصلی عامل له ۱۳۵۷ هـ شمسی کال نه تر اوسه پوری کمونستان اودهغوی ملیشی اوملګری دی مګر نه پوهیږو چی کوم مصلحتونه دوی دنوی موقف په غوره کولو اړویستی دی؟

راځی چی دی نوی سوال ته له ضمنی ځواب سره دهمایون اختر دمضمون ځینی برخی داتحاد په راتلونکی ګڼه کی یوځای ولولو...

(نوربیا)

دسرایوان ګتابچه:

انګلش ترجمان مه لیکه!

موږ په ډیر زور ایله همدومره کړی چی د«انګلش » الفبا زده کړو... داپرموږ پوری لوی تهمت دی!

څه کوی؟ مه لیکه «انګلش ترجمان » په دی خبری باندی سرایوان ورته برګ شو وی ویل : دازما کاردی ! زه پوهیږم چی ستا(شناخت) څنګه وکړم هډو داسوال نه پیداکیږی چی ته په دی کارکی ترما مخکی شی؛ځکه زه ددی ملك په سیاست پوهیږم دسیاست بازارونه دکانونه هستی اوکوڅی ټولی ماته معلومی دی ماته پته ده چی زه باید څه وکړم .. منم چی ته په (اربی) پوهیږی اودا(دوتر) چی تاسی نیسی دهمدی کارلپاره نیسی چی (اربی) رسالی ترجمانی کړی،پریس ته یی ورکړی ، چاپ شی اوبیا یی په خپلو خلکو وویشی٬مګر نن سبا دلته انګلش ډیربنه چلیږی ،والله که موڅوك پوښتنه هم وکړی هغه ورته وایی:

وه وروره!

زما خوواوره ! موږ دا دفتر دتجارت لپاره نه نیسو نه کومه تجارت خانه خلاصوو بلکی دجهاد لپاره کار کوو هرچیری چی جهادوی موږ ورته کارکوو تاجك مجاهدینو ته٬کشمیری مجاهدینوته ، فلسطینی مجاهدینو ته٬او نورو مجاهدینوته. ټیك ده چی موږ افغانان یو؛مګر دابه راسره منی چی له مجاهد سره سره دا افتخار هم زمونږ په برخه دی چی دنړی ټول مجاهد قوتونه له موږسره دوروګلوی اړیکی لری ...نوځکه وایم چی موږ دا عربی اثار نه یواځی دافغان مجاهدینو لپاره ترجمه کوو بلکی دنورو هیوادو مجاهدین هم پرموږ بسیا دی (کاربی کوو روابط ورسره پالواو..) په (انګلش) کی چیرته دومره وسیع مواد شته چی آثاریی، دمجاهدینودلارښوونی لپاره وژباړل شی اوبیا موږ نه پوهیږو په (انګلش) باندی! ځکه وایم چی «انګلش» ترجمان مه لیکه!!!»

سرایوان له غصی سورشی اوورته وایی چی: مادرته ونه ویل چی زه ددی ملك په سیاست پوهیږم پوښتنه مکوه کاپی نه ده چی مادرته څه وویل ځان غلی ونیسی اوعمل پری وکړی...

هغه ورته وایی چی زموږدکوټی اوحویلی تعلق له سیاست سره څه ده ؟ عجیب سړی یی داڅه وایی ماغزه دی نه دی خراب شوی؟

هغه په ځواب کی ورته وایی : داکوټه نیسی که نه ؟ که یی نیسی نوما پریږده چی ستا په (آیډنټټی) کی ولیکم « انګلش ترجمان » اوکنه زما غریبی مه خرابوه دسرای خاوند پرمامه غصه کوه...

هو! پولیس له انګلش سره ګهراعلاقه لری (آناجانا) ټول له انګلش سره ده ډیراحترام ورته لری اوکه چیری ستاپه شناخت کی وګوری چی (اربی ترجمان) نوله الله نه امان غواړه ته به هم په حوالاتوکی یی اوزه به هم - ځکه نن سبا دلته مجاهد عربان ددهشت ګردپه نوم نیول کیږی اوڅوك چی ورسره تعلق هم ساتی دېنی ورځی نه خښتن کیږی...

ښه اوس راته وایه چی انګلش ترجمان ولیکم کنه...

هغه شونډی مرکی مرکی کړی او دسرایوان له غږ سره یی دهو آواز غبرګ کړ!!

گلدسته یي از بوستان افکار شهید اسلام دکتور عبدالله عزام رحمة الله علیه

قصهء پادشاه نصارا و معتمد بن عباد

تاریخ براي ما روایت مي کند که پولس دوم پادشاه نصارا در اندلس (هسپانیه) در صدد بهره برداري از اختلافات امراي اندلس بود ، امرايي که شاعري در موردشان گفته بود:

وتفرقوا في کل محلة فیهم امیر المومنین ومنبر

یعني « در هر محله یي پراگنده شدند، در بین هر گروه یك امیر المؤمنین و یك منبر بود. »

حالت اختلاف و پراگندگي امراء اندلس، اشبیلیه، قرطبه، بلنسیا بجائي رسید که هر شهري اميري داشت و چنان باهم بغض و عداوت داشتند که با پادشاه نصراني علیه برادران شان کمك مي کردند.

قرطبه از طرف مسیحیان اشغال گردید و زنگ خطر براي اشبیلیه و امیر آن معتمد بن عباد نواخته شد قبل از اشغال قرطبه که از طرف معتمد اداره مي شد، پولس ششم باکمال تکبر پیامي به وي فرستاد که مي خواهم همسر من در داخل مسجد ولادت نماید زیرا این مسجد در اصل کلیسا بود و باید زن من در آن وضع حمل نماید و این سخني است که کاهنان و راهبان به من گفته اند !

از این پیام معتمد بن عماد برآشفت و مشاورین و اطرافیان خودرا جمع کرد و گفت : شما درین مورد چه نظر دارید؟ آیا از برادران مسلمان خود که در آنسوي جبل الطارق قرار دارند، کمك بخواهم؟ آیا از یوسف بن تاشفین پیشواي مرابطین کمك بخواهم ویا منتظر بمانیم که پولس ششم ماراببلعد؟ مشاورین او - چه بسا که از دست چنین مشاورین بسیاري از کشورها نابود گردیده و ارزشها ازبین رفته است زیرا اینها کاسه لیس اند و در بین لجنزار اختلاف و تفرقه زندگي مي کنند- برایش گفتند: اگر از مرابطین دعوت بعمل آوري تختت راخواهند گرفت!

معتمد با فریادي که از اعماق قلبش برمي خاست، خطاب به ایشان گفت: اگر شتر چران مرابطین باشم بهتر از آنست که خوك فرنگي هاي نصارا را بچرانم!

فریادي از دل

اي زعماء افغانستان متحد شوید!

اي رهبران افغانستان آیا وقت آن نرسیده است که سخن معتمد بن عباد را برزبان بیاورید؟! شما برسر یك دوراهي ایستاده اید، یا بپذیرید که به خدمتگاران اناهیتا راتب زاد، بارق شفیعي وببرك کارمل تبدیل شوید وزیر قدمهاي آنها از بین بروید ویا تحت قیادت یك شخص متحد شوید.

شما در حساس ترین مرحلهء زندگي تان قرار دارید، شما برسر دوراهي قرار دارید، موضوع بسیار حساس است و گنجایش تاخیر را ندارد، یاعزتمند وسپاهیان یکتن از رهبران مسلمان تان باشید ویا تا ابد یوغ غلامي کمونستها رابگردن بنهید، کمونست به خانه ات داخل خواهد شد، به ناموست تعرض خواهد کرد، مصحفت را خواهد سوخت، قرآنت را در بین نجاست خواهد انداخت... آري! یابه کمونستها تسلیم خواهید شد ویابه گرد یك شخص جمع خواهید شد!

آیا وقت آن نرسیده است که باکمال عزت به گرد یکي از رهبران تان جمع شوید.

